ډاکټر حرکت ۲۰۱۳/۰۱/۲۳

# نړیوال حق نه لري په افغانستان کې

## د ۹۰ـ یموکلونو فاجعې تکرار کړي!

کابل هم څه د مړو هدیره نه ده!

په کابل او اړونده سیمو کې، نن سبا، له شپږ ملیونو څخه زیات انسانان ژوند کوي. داچې څومره د تجارتي راکړې ورکړې او نورو ضرورتونو او مجبوریتونو په خاطر، هره ورځ کابل ته ځي او راځي او یا ځیني نور، چې له ولایاتو مهاجر، چې په کابل کې غېرقانوني او غېر منظم استوګن دي، څومره د کابل د نفوسو تکاثف زیاتوي او څومره، افغانان په مجموع کې د مرګ او ژوبلې په مقا بل کې اسیب پزیره کوي او د ملکي کسانو دمرګ ژوبلې کچه لوړوي. یواړخ ته که نن په اصطلاح همدغه بېوسه او بې کسه، په هر تور تورن او هره جزا محکوم کابلیان او په مجموع کې ټول افغان ولس قرار لري او بل اړخ ته بې رقیبه، غېر مسئول او« واجب الاحترام» داخلي او خارجي بېباکه، ظالم او حریص حاکمان، چې خپل ځان او خپلو ولسونو ته د هر ډول نعماتو او خوشبخته راتلونکي ژوند د تأمین قسمونه یادوي او وعدې ورکوي، خو د بېوزله او بېګناه افغان ولس په حق کې، په سلو او زرو حیلو او بهانوهر ډول ناروا روا ګڼي، وژني یې او شتمنی یې تباه کوي.

دوی خپله، دغه ډول ناوړه ستراتیژي او په اصطلاح ناوړه تصادفات په مونږ دایمي او ابدي کول او د خپلو بې مجرمه جرمونو د بې ګناه مجرمانو لپاره قضایي مصونیتونه غواړي او هغه هم په داسې حالت کې، چې د افغانانو د تېرې لویې غمیزې د ناوړه حوادثو د ملیونونو شهیدانو، معیوبانو، مهاجرو د غمونو او غوټې اود کلیو، باندو، ښارونو ، ښوونځیو، شفاخانو، ویالو، بندونواو سمې او غر د تباهې مسئولیت مستقیماً په دوی پورې اړه لري او د راتلونکي وخت لپاره هم پلان، امادګي او ډېرې منظمې په سدیزم روږدې مختورې ډلې لري، چې په خپل حضور او بېباکانه حقوقي عدم مسئولیت او یا لکه، چې دوی یې تعریف او عنوانوي، حقوقي مصونیت او یا په بل عبارت سره، لجام ګسیختګی او خلاص لاس سره غواړي، چې په راتلونکي کې هم د ۹۰ـ یموکلونود غمیزې او فاجعې لا په پراخه پیمانه اولا په بې مسئولیتی سره خپلو بېباکانه او غېرمسئولانه اعمالو ته دوام ورکړي.

دغه خبرې به هم د منلو وړ وې، که چېرې د دوی تر شا، دغسې توره لعنتي ماضي نه وې غزېدلې او مخې ته یې هم تر هغې بد تر، د حرص او آز څخه ډک د سرمایداري لېونتوب لعنتي پلانونه په ذهن او عمل کې نه روزلي او نه پاللي.

ــ دوی زمونږ ملک ته د نړیوالو ټولو منل شوو اصولو او قوانین پر خلاف او رد بېزور او نا اعلان شوي جنګ سره راغلي دي، او افغانان دغه ډول نابللي مېلمانه هېڅکله په خپل کور کې نه مني.

ــ دوی زمونږ په هېواد کې ټول سیاسي، اجتماعي، اقتصادي، قومي، قبیلوي دیموکراتیک مناسبات، . . . او نور منل شوي اصول او ارزښونه د پښو لاندې کړي، د افغان ورونو قومونو تر منځ دښمنی ته لمن وهي او په دوامداره توګه، هغه په نه پخلاکېدونکي دښمنی بدلول غواړي.

د افغانانو داخلي او بهرني بدخواهان دې پوه او پرته له شکه دې دا ومني او قبوله دې کړي ،چې:

« افغان ملي او پښتني قومي وحدت، دټولو افغانانو د ملي وحدت نه ماتېدونکي سمبول او په افغانستان، منطقه، آسیا او حتی ټوله نړی کې د ولسونو د سولئیز ګډ ژوند ضامن او کلک ملاتړی دی. »

اسیا یک پیکر آب وگل است * افغانستان درین پیکر دل است
ازفساد او فـســاد اسیـــــــا * از کشـاد او کشاد اسیـــــــا

علامه اقبال لاهوري

ــ جمهور رئیس حامد کرزي په وار وار ویلي او بهرنیانوهم تائید کړي، چې د فساد او مخدره موادو د قاچاق اصلي او عمده عاملین پخپله بهرنیان او د هغوی زر خریده غلامان دي او دوی دواړه خواوې، خپلې مشترکې ګټې هېڅکله د هېڅ ډول خورا لوړ با ارزښه ملي، انساني او عام بشري ارزښ په خاطر له لاسه نه ورکوي.

ــ دوی له ابتدا څخه په افغانستان کې خپله امپریالیستي ستراتیژي تعقیب کړې او وروسته له دې یې هم په نننې سوپر ګلوبال امپریالیستي شرایطو کې تعقیبول غواړي.



افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

هغه وخت، چې امریکې، دانګلیس په مشوره، عجولانه، بې باکانه او غېر مسئولانه، د خپلو تېروتربګنیو د غچ په پلمه، په جنګ ځپلي افغانستان، ظالمانه یرغل وکړ، مونږ یې پایلې، همغسې چې د پخواني شوروي اتحاد د غدارانه یرغل په پېل کې، د تاریخي حقایقو په بنیاد، د پایلو وړاندوینه، دا ډول کړې وه، چې: « د هرې یرغلګرې امپراطورۍ لمن د افغانستان له خاورې څخه داسې ټوله او داسې په ملا پورې ورټول شوې، چې اوس پرې خپل شرمونه اوشرم ځایونه هم نه شي پټولې»، د امریکې په هکله، زمونږ وړاند وینه هم همدا ډول وه او نن زمونږ دغه وړاند وینه هم، په حقیقت بدلېدونکې ده.
انګلیس او امریکې، له دې څخه بل کوم غوره فرصت، چانس او بدیل درلودلې شو، چې لومړې بېوزله افغان ولس د شوروي آبر قدرت په مقابل کې وجنګوي، د نړیوالو سره خپل بې شمېره تضادونه د افغانانو د هډ، پوست او شتو په بیه له مخې لیرې ، شوروي او نړیوال سوسیالیستي نظام ړنګ او هرڅه د انګلیس ـ امریکا د نړیوال ګلوبال کاپیتال مونیپولار امپېریالیستي قدرت په محور وڅرخوي او د نهایت احتیاط له مخې د ټولو نړیوالو قوتونوسوق الجېش، په بې مفهومه او خاینانه دلایلو او پلمو سره، د نړیوالو ټولو قوانینو او اصولو په خلاف، د افغانستان د اشغال په خاطر سفر برې او دا د ولس کاله د بېوزله افغانانو په مقابل کې نابرابر غېرعادلانه او جفاکارانه جنګ ته دوام ورکړي او اخري ګوله ډوډۍ، د خورا غریب افغان قشر له خولې، د اخریني سلګۍ دمخه راوشوکوي.
خبره خولا هغه وخت پوره واضح او څرګنده وه، کله چې دغه ټول پلانونه او ټولې پلمې له ابتدا څخه دسیسه کارانه او جمهور رئیس کلنتن هم پرته له کوم دلیل او توجیه، په خپل نا اعلان شوي غېر مسئولانه یرغل سره، د کروز راکټونو د افغانستان شرقي، جنوبې او جنوب غربي سیمو کې سرحدي پولي پرېکولې او د خپلو قلابي دیموکراسۍ او بشري حقوقو داصولو او قوانینو په خلاف یې ښارونه، کلي اوب اندې یې له خاوروسره برابرولې او ستاسې زرخریده غلامانو(شمالي ټلوالې)، د خپلو لاسونو په پړقا او هلهلوسره یې، بېشرمانه د خپل وطن او هموطن کلې کور او کوډله او ښارونه، تاسې ته په نخښه کول، ستاسې د مغرضانه او یو جانبه تبعیضي دریز نمایندګي یې کوله.
د بن د تش په نامه کنفرانس، کمرنګه، حقیر فقیر او بې سویې ټولنیز نا متجانس او نا متناسب قشري تر کیب، چې په هېڅ صورت سره یې د افغان ولس د فراخ بنسټه اجتماعي جوړښت دغني مناسباتو، نمایندګي نه شوه کولې، د بن د کنفرانس نړیوال سیاسي ټولنیز ارزش، ماهیت او اهمیت ترې له ورایه څرګند وؤ او ځکه خو دغه کوچنۍ ډلګۍ په خپلو کې سره هم د یوې لارې لارویا ن نه وو.
دا نن یو تاریخي حقیقت او حتا منل شوې واقعیت دې، چې افغانان تل د خپل اولس او خپل هېوادسر نوشت او راتلونکې به همغسې ټاکي، چې پخپله دوۍ یې غواړي. کله، چې پخواني شوروي اتحاد په افغانستان حمله وکړه، انګرېزانواعلان وکړ، تاسې چې په افغانستان حمله کوله، له مونږ سره خو به مو مشوره کړې وې. زه داوایم انګرېز، امریکې او په حقیقت کې ټولو نړیوالو، چې په افغانستان حمله کوله، لا اقل د اوسنۍ روسیي سره خو به یې مشوره کړې وې.
نړیوال، همغسې چې د افغانانو په حق کې ډېر ملامته او حسود پاتې شوي، دا ځل هم، همغومره په بد نیت او غچ اخستلو په خاطر افغانستان ته راغلي دي. « خدای مه که » دغه بد نیت، ستاسې د خپل ځان بلاوګرځي او د پخواني شوروي اتحاد په سرنوشت اخته نه شی.
افغانان، سیال خلک دي. د سیالانو سره سیاله دوستي او معامله پکار ده. تاسې ولې پرته د کوم موجه دلیل او علت، له دومره لیرې واټن څخه، د افغانستان د ټوټه ټوټه کولو، اشغالولو او تباه کولو په خاطر، د پخوا اماده طرحو او خریطو سره راغلي یاست؟ اوس هم ناوخته نه دې، خپل نیتونه سم کړی، زمونږ له تباهی او تجزیي لاس په سر شی، زمونږ د ربښتیني افغا ني دوستۍ لاس همېشه ستاسې په لور درغزېدلې دې. په دې کې به هم ستاسې، هم د نړیوالو او هم د افغانانو خېر وي .

ټیټ مې مه بوله غور ځنګ را باندې مه کړه * زه په دې افتادګۍ کې لوی ګړنګ یم
سید شمس الدین «مجروح »

او هو! کابل او افغانستان، خو ربښتیا، هم څه د مړو هدیره نه ده، چې تاسې لنډ په لنډه پخپله چاودېدونکي توکي هره ورځ، یوځای او بل ځای، ځای پځای کوی او بېګناه انسانان وژنی!
بدې شپې ورځې په هرچا راتلای شي، د بشري همزیستۍ تقاضا داده، چې غمځپلو سره باید مرسته وشي، نه دا لکه، چې نړیوال مونږ له خوړې ګوتې کشوي او زوروي مو.
پاکستان هم، کله چې درې وارې د هند سره، په جنګ اخته وو اوهر درې وارې یې ماته وخوړه، افغانانو کولې شول، خپل حقه حقوق ترې وغواړي، برخلاف افغانانو، په بده ورځ کې، له خوږې ګوتې کشول، نا ځوانمردانه عمل ګاڼه او ځکه خویي پاکستان ته دمرستې وړاندیز وکړ. لکن نن پاکستان، افغانان له خوږې ګوتې کشوي او هڅه کوي خپلې ناروا غوښتني پرې د خپلو بادارانو په زور پرې تحمیل کړي.
پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ